او الله ماته وحی کړی چې تاسو عاجزي وکړئ، تر څو هېڅوک د بل پر وړاندې پر ځان ونه ویاړي او هېڅوک په بل چا تېری ونه کړي

له عیاض بن حِمَار المجاشعي رضي الله عنه څخه روایت دی وایي چې: یوه ورځ رسول الله ﷺ زمونږ په منځ کې خطبه کوونکی ودریدو او ویې فرمایل: بیا یې حدیث بیان کړو او پکې یې وفرمایل: «او الله ماته وحی کړی چې تاسو عاجزي وکړئ، تر څو هېڅوک د بل پر وړاندې پر ځان ونه ویاړي او هېڅوک په بل چا تېری ونه کړي».

[صحیح دی] [مسلم روایت کړی دی]

نبي ﷺ د خپلو صحابه‌وو په منځ کې خطبه کوونکی ودریدو او په وینا کې یې وفرمایل: الله ورته وحی کړې چې خلک باید خپلو کې عاجزي وکړي، داسې چې خلکو ته د مهربانۍ ﷺ وزړې وغوړوي او نرمي غوره کړي، تر څو هېڅوک د نسب، مال یا بل څه له امله پر بل فخر ونه کړي او نه یو پر بل ظلم او تېری وکړي.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5497